# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد / بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم / از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com | afgazad@gmail.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|



**ی. و. ستالین**

**ژباړه: فرهاد وياړ**


**۲۹/۰۸/۱۰**

## د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه

## (اتمه برخه)

په فئوډالي رژیم کې، تولیدي اړیکې، پر تولیدي وسایلو د فئوډال له مالکیت او پر تولید کوونکي کارګر (سرف)، چې فئوډال نور نشي کولای وی وژني خو په پلورلو او پیرلو کې یې آزاد دی، د فیوډال له محدود مالکیت څخه عبارت دی. په دې دوره کې د فئوډال د مالکیت په وړاندې د دهقان او کسبګر انفرادي مالکیت هم موجود دی. دا مالکیت د تولید پر خصوصي افزارو او اقتصادیاتو چې د شخصي کار له امله تر لاسه کیږي، رامنځته کیږي. دا تولیدي اړیکې هم په کلي توګه په دې دوره کې د تولید کوونکو ځواکونو له خصوصیاتو سره متناسب دي. د اوسپنې اوبه کول او د آهنګرۍ کار د پخوا په پرتله ښه مخې ته ځي. یوه او د اوبدلو ماشینونه رواج مومي. کرنه، بڼوالي، د ښناک تولید او غوړي ایستل له پخوا څخه زیات پراختیا مومي او پرمختګ کوي او د کسبګرۍ د هټیو په مقابل کې مانوفاکتوري موسسې رامنځته کیږي. دا په فیوډالي دوره کې د تولید کوونکو ځواکونو د وضعې ځانګړي خصوصیتونه دي.

نوي تولید کوونکي ځواکونه ایجابوي چې کارګر په تولیدي چارو کې تر یوې اندازې پورې له نوښت کار واخلي او له کار سره خپله لیوالتیا ښکاره کړي او په ګټه کې شریک شي. نو له دې امله، فئوډال، له هغه برده څخه چې له کار سره یې هیڅ ډول لیوالتیا نلرله او ابتکار یې هم نه درلود، تیر شي او پتیله یې چې د برده پر ځای د هغه سرف سره سروکار ولري چې خپل اقتصادیات یې لرل او د تولیدي آلاتو مالک دی او په کار کې تر هغه اندازه پورې ذینفع دی چې ځمکه وکري او ارباب ته جنسي مالکانه ګټه ورکړي.

خصوصي مالکیت په دې دوره کې بیا هم پرمختګ کوي. زبیښاک تقریباً د بردګي د دورې په اندازه زیات دی، خو یوازې یو څه نرم شوی دی. د زبیښاکګرو او استثمار کیدونکو تر منځ طبقاتي مبارزه د فئوډالي رژیم اساسي ځانګړنه ده.

په پانګواله رژیم کې د تولیدي اړیکو اساس پر تولیدي وسایلو د پانګوالی مالکیت جوړوي او همدا ډول پر تولید کوونکو، یعنې مزدورو کارګرانو باندې نور مالکیت نشته؛ پانګوال نور نشي کولای هغوی ووژني یا یې هم وپلوري او

وپیري ځکه هغوی د هر ډول شخصي تړاو څخه آزاد دي، خو د تولیدي وسایلو له لرلو محروم دي او د دې لپاره چې له ولږې مړه نشي، مجبور دي خپل کاري ځواک پانګوال ته وپلوري او د زبیښناک یوغ اجباراً پر غاړه ویسي. په دې دوره کې پر تولیدي وسایلو د پانګوالی د مالکیت تر څنګ، د دهقان او کسبګر، چې د سرواڅ له قید څخه آزاد شوي، خصوصي مالکیت چې پر شخصي کار ودریدلی هم موجود دی او د دې دورې په لومړیو کې په پراخه توګه رواج لري. په دې دوره کې د کسبګرۍ کارځایونه او مانوفکتوري موسسې، فابریکې او لویې کارخانې چې په ماشینونو سمبال دي، په کار ولویدلې. د اربابانو کروندې چې د دهقانانو په لومړنیو وسایلو کرل کیدې خپل ځای پانګوالیزې کرنې ته، چې پر کرنیزه علومو ودریدلې وه او د کرنې ماشینونه په اختیار کې لري، ورکوي.

نوي تولید کوونکي ځواکونه ایجابوي چې تولید کوونکي د عامي او جاهله سرفانو په پرتله لا روزل شوي او پوه وي څو وکړای شي ماشین وپیژني او په سمه توګه یې وکاروي. له همدې امله دی چې پانګوالان هم غوره ګڼي چې د مزدورو کارګرانو سره چې د سرواڅ له قید څخه آزاد شوي او تر هغه حده پورې پوه او روزل شوي دي چې کولای شي د ماشین سره په سمه توګه کار وکړي، سر او کار ولري.

خو وروسته له هغې چې پانګوالي، تولید کوونکي ځواکونه په لوړه کچه د پرمختګ خوا ته وړي، د هغو تضادونو سره مخامخ کیږي چې ورته لاینحل دی او په پایله کې پانګوالی سردرګمه کیږي. پانګوالي د توکو د تولید په لا زیاتیدنې او د توکو د بیو په راټیټولو سره سیالی زیاتوي؛ هغه خلک چې له کوچنې او منځنی مالکیت څخه برخمن دي، زیانمنوي او په پرولترانو یې بدلوي؛ د پیریدنې ځواک راټیټوي او په پایله کې، د تولید شوي توکو پلورل ناشونې کیږي. پانګوالي د تولید په پراختیا او په سترو فابریکو او کارخانو کې د میلیونونو کارګرانو په راغونډولو سره، د تولید بهیر او ډول ته ټولنیزه ځانګړتیا وربخښي او په دې ډول په خپل لاس د خپل کار بنسټ نابودوي. ځکه چې د تولید ټولنیزه ځانګړنه، پر تولیدي وسایلو ټولنیز مالکیت ایجابوي، حال دا چې په دې دوره کې پر تولیدي وسایلو د پانګوالی خصوصي مالکیت پر خپل ځای پاتې کیږي چې دا د تولید د ټولنیز بهیر سره اړخ نه لګوي.

دا د تولید کوونکو ځواکونو او د تولیدي اړیکو خواصو تر منځه نه پخلاکیدونکي تضادونه، د متناوبه کړکیچونو په بڼه چې د مصرف څخه د زیات تولید په پایله کې رامنځته کیږي، راڅرګندیږي او په دې وخت کې پانګوالانو چې په خپل لاس یې ډیر شمیر کسان نیستی ته کاږلي دي، خپلو توکو ته د پیریدونکو د نه لرلو له امله مجبوره کیږي چې محصولات وسوځوي، تولید شوي توکي نابود کړي، تولید ودروي، تولیدي ځواکونه منهدم کړي، په داسې حال کې چې میلیونونه خلک نه د توکو د کافي نشتوالي له امله، بلکې د زیاتوالي له امله ناچاره دي وزګار پاتې شي او د ولږې سره ژوند وکړي.

نو ویلی شوو چې د پانګوالی تولیدي اړیکې نور د ټولنې د تولید کوونکو ځواکونو له خاصیت سره مناسبه نه دي او د یاد شویو ځواکونو سره نه پخلاکیدونکی تضاد لري.

همدا دی چې پانګوالی د هغه انقلاب زیږونکی دی چې پر تولیدي وسایلو د پانګوالي اوسني مالکیت پر ځای سوسیالیستي ټولنیز مالکیت واکمنوي.

نو د زبیښناکګرو او زبیښناک کیدونکو تر منځ سخته طبقاتي مبارزه د پانګوالی رژیم اساسي خصلت جوړوي.

په سوسیالیستي رژیم کې چې اوس یوازې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو په اتحاد کې رامنځته شوی، د تولیدي اړیکو بنسټ، پر تولیدي وسایلو ټولنیز مالکیت جوړوي. په دې ټولنه کې نور نه زبیښناکګر شته او نه هم زبیښناک کیدونکي. تولید شوي محصولات د «څوک چې کار ونکړي د خوړلو حق نلري» د اصل له مخې د کار په نسبت ویشل کیږي. د تولید په بهیر کې د انسانانو تولیدي اړیکې ، په دوستانه مرستو او د هغو کارګرانو په سوسیالیستي مرستو

ودريدلي دي چي له زبيښاک څخه آزاد دي. دلته توليدي اړيکي د توليد کوونکو ځواکونو د وضعي سره په بشپړه توګه اړخ لګوي، ځکه چي د توليدي بهير ټولنيزه ځانګړنه پر توليدي وسايلو د ټولنيز مالکيت په وسيله پياوړتيا مومي.

له دې کبله د شوروي جمهوريتونو په اتحاد کي سوسياليستي توليد د مصرف څخه د زيات توليد دوره ای کړکيچونو او د هغي اړوندو ناخوالو څخه خوندي او محفوظ دی.

نو له همدې امله دلته توليد کوونکي ځواکونه په ډيری چټکی سره د پراختيا او پرمختګ خوا ته درومي، ځکه هغه توليدي اړيکي چي ورسره همغاړي دي، هغوی ته د پرمختګ ميدان پرانيزي.

دا و د بشريت په تاريخ کي د انسانانو تر منځ د توليدي اړيکو تکامل ته ځغلنده کتنه.

دا و د ټولني د توليدکوونکو ځواکونو او په تيره بيا د توليدي آلاتو د تکامل سره د توليدي اړيکو د تکامل تړاو. دا تړاو لامل کيږي چي د توليد کوونکو ځواکونو تکامل او بدلون، ژر يا په ځنډ سره په توليدي اړيکو کي بدلون او تکامل رامنځته کړي.

مارکس وايي:

«که څه هم د کار د وسايلو ايجادول او کارول په لومړني بڼه کي ځينو حيواناتو ته هم ځانګړي وي، خو بيا هم په ښکاره توګه د انساني کار د بهير ځانګړنه ده او له همدې امله دی چي «فرانکلن» انسان ته يو افزار جوړونکی حيوان وايي، په هره اندازه چي فسيلي هډوکي د هغو حيواناتو د پيژندلو لپاره ضروري دي چي ډولونه يي منقرض شوي دي، په هماغه اندازه هم د کار د وسايلو پاتی شوني د بيلابيلو ټولنيزو او اقتصادي سازمانونو د پيژندني لپاره چي اوس له منځه تللي دي مهم دي. د اقتصادي اعصارو ځانګړنه دا نه ده چي څه توليديږي، بلکي دا ده چي څرنګه توليديږي... د کار وسايل نه يوازې چي د د بشري کار د ځواک د پراختيا او پرمختګ معيار دی، بلکي د هغو اړيکو استازی هم دی چي کار يي له مخي تر سره کيږي.» (ک. مارکس، «کاپيتال»، لومړی ټوک، ۱۲۱ مخ، روسي چاپ ۱۹۳۵).

او بيا:

«ټولنيزي اړيکي د توليدونکو ځواکونو سره نژدی رابطه لري. انسانان، نوی توليدونکي ځواکونه لاسته راوړي، د خپل توليد ډول بدلوي او د توليد د طريقي او همدا ډول د ژوندانه د وسايلو د برابرولو د طريقي د بدلون سره، خپلي ټولنيزي اړيکي هم بدلوي. کله چي ميچنه (لاسي ژرنده - ژباړن) معمول وه، سينيور (فئودال – ليکواله ډله) او کله چي د بخار ژرنده کارول کيږي صنعتي پانګوال د ټولني مشري په لاس کي لري.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۵ ټوک، ۳۶۴ مخ، روسي چاپ).

- «د توليدکوونکو ځواکونو ګرندی حرکت، د ټولنيزو اړيکو انهدام او د اندونو ظهور په پرله پسي ډول دوام لري، څه چي نامتحرکه دی هغه يوازې مطلق (ابستراکسيون) حرکت دی.» (همغه کتاب، ۳۶۴ مخ).

انګلس د «کمونيست ګوند مانيفست» په سريزه کي، تاريخي ماترياليزم داسي تعريفوي:

« د هرې دورې اقتصادي توليد او ټولنيز سازمان، چي په ناچاره له اقتصادي توليد څخه رامنځته کيږي، په هره تاريخي دوره کي، د هغي دورې د سياسي او فکري تاريخ اساس جوړوي.... د دې اصل په سبب د لومړني، اشتراکي، مالکيت د انحلال وروسته، ټول تاريخی بهير عبارت دی د زبيښاکګرو او زبيښاک کيدونکو تر منځ د طبقاتي مبارزی له تاريخ او همدا ډول د ټولنيز تکامل په بيلابيلو پړاونو کي د تابع طبقاتو او واکمنو طبقو تر منځ د مبارزې له تاريخ څخه.... دا مبارزه، اوس داسي پړاو ته رسيدلی چي زبيښاک کيدونکي او ستمځپلی طبقه (پرولتاريا) بی له دې چي ټوله ټولنه په ورته وخت کي له زبيښاک او ستم او طبقاتي مبارزې څخه د تل لپاره وژغوري، نشي کولای خپل ځان د هغي

طبقي (بورژوازي) له منگولې خلاص کړي چې هغه استثماروي او تر فشار لاندې يې نيسي....» (د انګلس سريزه د «مانيفست» په آلماني چاپ کې).